# خیبر؛ د خوارج پر وړاندې د امنیتي ځواکونو بریالي عملیات په زیاته اندازه وسلې او مهمات ترلاسه شوي

د خیبر ضلع (تیره)؛ د نیول شوو ترهګرو نه د پوښتنو په مهال د ترلاسه شوو مهمو اطلاعاتو په اساس امنیتي ځواکونو د تیراه دره د لر باغ (ملک دین خیل) په سیمه کې په یو وخت د ګڼو عملیاتو په ترسره کولو سره د خوارجو او د هغوي د سهولت کارانو په مرکزونو چاپه وهلې۔

**د ډیرو بریالیو عملیاتو په ترڅ کې په زیاته اندازه وسلې او مهمات ترلاسه شوي او د دزو په تبادله کې دوه تنه ترهګر له ټپي کیدو سره وتښتیدل۔ په یادو عملیاتو کې 1 تن مهم همکار هم نیول شوی۔**





**په نیول شویو وسلو کې 2 میله ماشیندار، 3 فرعي ماشین ټوپک، 3 میله تومانچه، 1 هوایې ټوپک، 14 مجلې، 31 لاسي بمونه، 1191 بیلابیل ډوله مرمۍ، 1 د شپې لید، 4 بونا کوډونه، 2 د فشار آئی آی ډی ،6 آر پی جی ، 5 آر پی جی فیوز، 1 خنجر، 1 پاسپورټ، 1 ارتباطات، 3 رادیو سیټونه، 7 موبایل ټیلیفونونه او هم پاکستانی او افغانی کرنسی شامل دی۔**

د تیراه په دره او شاوخوا سیمو کې د امنیتي ځواکونو کامیابو عملیاتو د خوارج ماتې خوړلې او د ترهګرو او تسهیلوونکو په وړاندې د کلکې محاصرې په حال کې دي۔